# آیا کائینات د یوتور غارپه داخل کی شتون لری؟

Ketabton.com



لیکوال: انجینر جلیل خان آرمان

تماس:

۰۷۰۵۷۶۰۱۶۷

ketabton.com - The Digital Library

## آیا کائینات د یو تور غار په داخل کی شتون لری

په کائینات کی موږ تور غارونو په هکله تاسو به مخکی زیات معلومات تر لاسه کړي وي. دا داسی راز داره غارونه دي کوم چي د یو غټ ستوري له مړیني څخه وروسته جوړیږي او د یو ستوري مړیني ته موږ super nova وایو.

د super nova چاودنه دومره شدیده وي چي د څو نوري کاله لیري فاصلي پوري ددې ورانګي لیدل کیدای شی. نو د ستوري د چاودنی څخه وروسته دددغه شتوري شدید ترینه جذبی قوې په واسطه په فضاء کی یو ژوروالی رامنځته شی کوم ته چي موږ تور غار وایو. ددې تور غار په یو خاصه نقطه کي چي event horizon نومیږي هر شی چي لاړ شی که هغه یو ستوري وی ، ډبره او یا هم کوم انسان او یا هم کومه نور هیڅکله بیا نه شی راتلی ددې مطلب دا دی چي د تور غار د باندی څه روان دي ددې په اړه خو موږ تر یو حده پوري معلومات لرو مګر ددې دننه څه شی شتون لري ، ددې په اړه موږ دقیق معلومات نه لرو ، لحاظا ددغه موضوع په اړه مختلف نظریات وړاندي شوي .

تر اوسه پوري موږ انسانانو سره د کائینات د پیل په اړه کومه په زړه پوري نظریه چي شتون لری هغه د لوی درز نظریه یعنی د big bang theory ده.ددغه نظریی په مطابق د یو نه ښکاره کیدونکی نقطې ، د کوم په داخل کی چي لا محدوده انرژي موجوده او لا محدوده کتله موجوده وه ، د یو غټې چاودني په کولو سره ۱۴ بیلیونه کاله مخکي ددې کائینات پیل کوي کوم چي نن ورځ تر لامحدوده فاصلو پوري غځیدلی ده او دا کائینات دومره دی چي د کوم مشاهدي وړ کائینات په اړه چي موږ معلومات لرو یا د کائینات تر څومره لیری ځایه پوری چي موږ معلومات تر لاسه کړی هغه ددې قطر ۹۳ بیلیونه نوري کاله دی مګر ددغه ۹۳ بیلیونه نوری کاله ها خوا ته نور څه موجود دي ، موږ انسانان تر ننه نه پرې پوهیږو ځکه تر کومه ځایه چي موږ دغه کائینات مطالعه کړی یعني تر ۹۳ بیلیونه نوری کاله پوری دې ته موږ د مشاهدی وړ کائینات(observable universe) وایو او ددغه د مشاهدی وړ کائینات ها خوا ته نور کائینات هم موجود او موږ دې ته نه مشاهده شوی کائینات ( non observable universe)وایو ، که انسان د تکنالوژي هر څومره کوښښ وکړی بیا هم د مشاهدی وړکائینات ها خوا نه شی تلی .

خیر رابه سو خپلی موضوع ته ، ساینسپوهانو په نژدې وخت کی یوه نظریه وړاندي کړې د کوم په مطابق چي دوي دا وایی چي دغه ټوله کائینات یعني هم مشاهده شوی کائینات او هم نه مشاهده شوی کائینات د یو غټ تور غار په داخل کی موجود دی.

پوهیږم چی ددغه خبری په اوریدو سره ستاسو حالت به بدل شوی وی ، تاسو به ډیر حیران یاست او دا به وایاست چي آخر داسی څنګه ممکن کیدای شی؟

په ۲۰۰۴ م کال کی نیکوډم جي پوپلوسکې خپله یوه څیړنه خپره کړه او دا نظریه یی په کي وړاندي کړه د کوم په مطابق چی زموږ ټوله کائینات په تور غار کی شتون لری د کوم جسامت چی لامحدود یعنی د مشاهدی وړ نه دی ، دده د نظریی په مطابق دا ټوله کائینات چی نن ورځ موږ په کي اوسیږو د تور غار په داخل کی شتون لری.

ketabton.com - The Digital Library

دغه نوې نظریه یقینان د حیرانتیا او نه منلو سبب کیدای شی ، مګر په دغه نظریه کی ځینې داسی خبری او نقاط شته کوم چې انسان فکر کولو ته مجبور کوي. مثال په توګه د جسامت له لحاظه تور غارونه په کوچنی او لوی دواړه حالتونو کې شتون لري ، دا تور غارونه دومره غټ هم کیدای شی چی موږ یی فکر لا نه شو کولی.

تر اوسه پوری چې انسانانو د مشاهدې وړ کائینات کې تر ټولو غټ تور غار چې پیژندلی د هغه نوم ټون ۶۱۸ (TON 618) دی . آیا تاسو فکر کولای شی چی دغه تور غار به په جسامت کی څومره غټ وي ؟ فکر وکړې!

نور یعنی رڼا کوم چې په کائینات کی تر ټولو تیز سرعت لری کوم چې په ثانیه کی ۳۰۰۰۰۰ کیلومتره فاصله بشپړه وي ، که د نور په دغه سرعت سره موږ انسان مسلسل یو کال په خلاء کی سفر وکړو نو یو نوری کال به تری جوړ شی ، زموږ د شیدو لار کهکشان په کوم چې زموږ شمسی نظام هم شامل دی ، تر ۱۰۰۰۰۰ نوری کاله پوری غځیدلی ده یعنې د که موږ د نور په سرعت سره دا وغواړو چی د شیدو لار کهکشان څخه ووځو نو ۱۰۰۰۰۰ نور کاله وخت به په کار شی. زموږ هغه د شیدو لار کهکشان په کوم کی چې میلیونه او بیلیونه ستوری موجود دي او د دوي فاصلات هم د ختمولو نوم نه اخلی مګر آیا تاسو فکر کولای چې د ټون ۶۱۸ جسامت تقریبا ۳۲۰۰۰۰ نوري کاله فاصلی پوري غځیدلی دی یعنې دغه تور غار زموږ د شیدو لار کهکشان څخه ۳ چنده زیات پراخ دی.


کله چی یو ډیر غټ ستوری په چاودلو سره د تور غار پر ځای په نیوټرون ستوری باندی بدل شی ، نو دده کتله د جاذبی قوې له امله زیات کثافت پیدا کړی یعنی په کوچنی ځای کی ډیر زیات ذرات سره راټول شی د کوم له امله چې د ده د کوچنی جسامت په واسطه د یو مړ شوی ستوری کتله څو سوه واری زیات شی د مثال په توګه د یوې کاچوغی په اندازه جسامت لرونکی نیوترون ستوری کتله په ځمکه کی موجود د ماونټ ایویریسټ د غر له کتلی سره برابر دی .

بلکل په همدغه ترتیب سره د ټون ۶۱۸ تور غار کتله د ۶۶ بیلیونه لمرونو د کتلی سره برابر دی ، په یاد مو وی چی زموږ د شمسی نظام لمر د یو متوسط درجی ستوری دی کوم چې زموږ له ځمکی څخه ۱۳۰۰۰۰۰ واری زیات غټ دی او د ټوله شمسی نظام کتله ۹۹ فیصده کتله یوازی د لمر په واسطه برابریږی . که زموږ د لمر په څیر ۶۶ بیلیونه نور لمرونه یا ستوری سره یو ځای کړو نو د دوي جسامت په څومره غټ شی او د دوی وزن به څومره زیات شی یقینان د مشاهدی وړ به نه مګر دومره زیات ځای په کائینات یوازی ټون ۶۱۸ په نامه تور غار نیولی او ۶۶ بیلیونه ستوری په یوازی کولو سره چی څومره وزن جوړیږی دومره یوازی ددغه یاد شوی تور غار دی .


کوم دغه تر یو څه حده پوری دغه نظریه ممکن کوي چي کیدای شی د یو ډیر غټ تور غار په داخل کی زموږ دغه کائینات شتون ولری مګر موږ پری نه خبریږو.

دویمه خبره دا ده چی د تور غار موضوع هم اول تر یوې نظریې پوره محدوده وه ، تر هغه وخته پوری چی لومړی ځل لپاره انسانانو یو حقیقی تور غار ولیدلی . نو فعلاً دغه نظریه کائینات د یو تور غار په داخل کی دی حقینان یو لیونتوب او د نه منلو وړ به ښکاری . په راتلوونکی وختونو کی ددې د باور وړ ثبوتونه دا ثابتولی شی.


ketabton.com - The Digital Library




ددغه تور غار په داخل کی یو کوچنی نقطه یا ځای شتون لری کوم ته موږ واحدتوب(singularity ) وایو د کوم حجم چې صفر وی او کثافت بی لامحدود ، هر شی چې په تور غار کی داخل شی هغه ددې واحدتوب برخه جوړه شی او دغه واحدتوب یا singularity بلکل هغه واحدتوب یا singularity بیانوی د کوم څخه چې زموږ د کائینات پیل وشو او دغه واحدتوب یا singularity د هر تور غار په داخل کی شتون لری.





په ۱۹۶۰ م کال کی ستیفین هاوکینګ دغه خبره کړې چې نن ورځ کوم کائینات چې موږ د پراخیدو په حال کی وینو که چیری موږ دا برعکس عمل سره یې تصور کړو نو دغه خبره به ثابته شی چې دا هر څه یعنی دا ټوله کائینات په ماضی کی په نقطه کی قید وو ، د کوم په چاودلو سره چې ددې نظام پیل وشو او دغه نقطی ته هم واحدتوب یا singularity ویل شوې




یقینا‌ن ستاسو په باور به کیږی مګر تاسو یو ځل په انځور کی ښودل شوی د تور غار او د لویې چاودنی ماډل ته وګوری ، دا بلکل یو ډول نه ښکاری، په دوې دواړو فقط د یوه شی فرق دی هغه دا چې تور غارونه شیان د ځان طرف ته کشوی خو ددې برعکس د لوی چاودنی وروسته د یوې قوې واسطه یو له بله لیری کیږی او فاصلات تر منځ زیاتیږی د کوم له امله چې د کائینات په پراخیدو دی .




مګر ددې مشکل د حل لپاره هم یوه بله نظریه هم موجوده ده ، هغه دا چې تور غار شیان د ځان طرف ته راکشولو سره کوم بل ځای ته بې ورسوی د یعنی که تور غارونه د خپل یوې خولې په واسطه شیان راکشوی نو بلی خولې په واسطه کوم بل ځای ته بې ولیږی او دغه بله خوله یې د سپین غار (white hole) په نامه یادیږی مګر دغه دواړی خولې د یو واحدتوب یا singularity سره منښتی وې .






اوس نو دغه خبره یو څه په غور سره واوری . ساینسپوهان دا وایی چې زموږ د کائینات پیل کیدای شی داسی شوی وی چې یو غټ تور غار کوم چې د یوی واحدتوب سره منښتی دی ، دده په داخل کی لا محدوده کتله او انرژي د کوم ځای دده د جاذبی قوې له امله دده واحدتوب یا singularity ته داخل شوه او دغه واحدتوب یا singularity هغه واحدتوب یا singularity ده ۱۴ بیلیونه کاله په خوا په چاودلو سره ددی کائینات پیل وکړ یا داسی وایلی شو چې په دغه غټ تور غار کی داخلیدونکی هر شی


ketabton.com - The Digital Library




دده د واحدتوب یا singularity څخه دده د بلی خولی یعنی سپین غار( white hole) په واسطه د باندی را وه وتل کوم چی نن ورځ موږ د کائینات په توګه یی وینو .




د فزیک په داخل کی یوه نظریه موجوده ده کوم چی fecund universe theory په نامه یادیږي کوم چي په ۱۹۹۲ م کال کی د لی سمولین په نامه ساینسپوه له خوا وړاندی شوه ، د کوم په مطابق چی هر کله کوم شی یو تور غار ته داخل شی ، هغه که ستوری یا کوم بل څه ټوله ددغه تور په واحدتوب یا singularity کی ځای پر ځای کیږی او هر څومره چی په ده کی زیات شیان ځای پر ځای کیږی دد غه واحدتوب یا singularity جسامت هم غټیږی او آخر کار کله چی دده جسامت د پراخیدو آخری حد ته ورسیږی یعنی دی نه شی کولای چی نور موادی یا شیان په ځان کی ځخیره کړئ ، نو د یوې لوی چاودنی په کولو سره د سپین غار(white hole) په شکل کی یو نوی کائینات پیدا کړئ لکه څرنګه چی زموږ د کائینات په قضیه کی وشو . اوس په دغه نوی کائینات کی نور زیات تور غارونه به جوړ شی ، زیات ستوری به جوړ شی ، زیات شمسی نظامونه او کهکشانونه به جوړ شی یعنی یو نوی کائینات به جوړ شی او په دغه کائینات کی رامنځته کیدونکی نور تور غارونو کی به نور نوی کائیناتونه به هم جوړ شی او دا سلسله به مسلسل روانه وی ، نو دغه عالم د رابی په مطابق هر تور غار کی یو کائینات شتون درودلی شی.

که ددغه خبری په اړه موږ قرآنکریم وڅیړو نو قرآنکریم ددی په اړه داسی فرمایلی. الله تعالی فرمایلی په صورة طارق آیات نمبر ۱ څخه تر ۳ پوری:

وَالسَّماءِ والطَّارِقِ ، وَمَا أَدْرکَ مَاالطَّارَقُ ، النّجْمُ الثَّاقِبُ

ترجمه: قسم دی په آسمان او د شپې په څرګندیدونکی او ته څه پوهېږې چي د شپې څرګندېدونکی څه دی ، هغه ځلېدونکی ستوری دی.

په بل ځای کی الله تعالی په صورة واقعة کی فرمایلید په آیات نمبر ۷۵ او ۷۶ کی:

ترجمه: نو داسی نه ده ، زه د ستورو د پریوتلو په ځایونو باندی قسم خورم او که وپوهیږئ نو دا ډیر لوی قسم دی.

ketabton.com - The Digital Library

د معراج په شپه نبی علیه السلام تولی آسمانی لارو په تیرولو سره اووم آسمان ته یعنی یو نوی کائینات ته لاړی ، هغه لاره کوم چی د ټولو مخلوقاتو آخر حد دی ، آیا دغه لاره د یو تور غار د شتون په هکله اشاره نه کوی چیری چی د یو نوی کائینات لاره خلاصه شوه کوم چی زموږ ددغه کائینات څخه ډیر جلا ده .

د تور غار په اړه دغه نوی نظریات تر اوسه یوازی تر فکری نظریاتو پوری محدود دی ، ددوی ثابتول لا تر اوسه پاته دی مگر په دواړو حالتونو کی د قرآنکریم د آیاتونو په مطابق تور غار د کائینات داسی راز داره اجسام او ځایونه دی کوم چی د کائینات قوانین نه منی او کوم بل کائینات ته د تللو لار ده .

مگر مهم سوال دا ده آیا دا غارونه هغه کائینات ته د تللو لار ده په کوم کی چی موږ اوسیږو او یا هم کوم نوی کائینات ته د تللو لار ده یعنی آیا دغه تور غارونه موږ د خپل کائینات د یو سر څخه بل سر ته لیږی او یا که کوم نوی کائینات ته مو لیږی؟

اوس تاسو ددی سوال جواب په اړه څه فکر کوی خپل رایه راسره شریک کړی .

خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چی موږ مسلمانان د ساینس په هغو خبرو او نظریاتو باندی باید باور وکړو چی الله تعالی موږ ته د قرآنکریم له لاری نښودلی او باور مو باید همیشه په الله تعالی او د هغه په رسول وی.

**ستاسو قیمتی وخت په راکولو سره نړی نړی مننه**

**با احترام**

**انجینر جلیل خان آرمان**

**تاریخ:۱۴۰۵/۱/۳**

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*